AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

فدامحمد نومیر
۲۰۲۵/۱۲/۲۹

# د وطن مینه

چي يي مينه د وطن نه وي په سرکي
هغه سر د پريکيدو بويه په سرکي

د خاپوړو د ځای مينه د مور مينه
ليکل سوې د مور مينه په دفتر کي

خرابي چي د خيل پلار د کهول غواړي
هسي کس دي خدای پيدا نکړي تبرکي

د بابا او د ابا مېنه چي پلوري
ترهغه د سپي ساتل ښه دي په در کي

د اغيارو و ميدان ته چي داخيل سوې
د دښمن څه تيښته نه ښايي سنکر کي

مه يي ګوره چي تر شا يي وي تېونه
د مردانو وي هميش پرهر ځيګر کي

په زاريو خپلواکي کله مونده سي
ازادي د ملتو نغښتي خنجر کي

چي خبري د نفاق او د بيلتون کړي
منافق تل لټوي ګټه په شر کي

چي و ځانته افغان نه وايي لعنت پرې !!
دا لعنت وربادي وسه عام محضر کي

په تعصب او عصبيت باندي چي مړ سي!!
د نبي امتي شمار نسي محشر کي

چي ويده نسي نوميره په رباط کي
مالګي و پاشه ځو ځله دي پرهر کي

ډيسمبر - ۱۱ - ۲۰۲۵
متحده ايالات - جنوبي کلفورنيا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولـئ